## جهنم

### د جهنم پېژندنه:

جهـنم د الله عزوجـل زنـدان دی ، او د الله تعـالی د نافرمانـه بنـده ګـانو لپـاره جـوړ شـوی دی ، الله تعـالی پـه ځینو ځایونو کې د لوی اور په نوم هم یاد کړی دی.

عطاء بن یسار رحمه الله فرمایي:

جهـنم داسـې یـوه کنـده ده ، کـه چېـرې لـه هغـې څخـه غرونـه تېـر کـړای شـي ، نـو د جهـنم د اور لـه ډېـرې تودوخې څخه به خامخا په مایع (اوبو) باندې بدل شي.

جهنم کندې، نهرونه، درې ، حیوانـات او ډېـر عجیـب حـالات لـري، لـه پیدایښـت څخـه یکـې د الله جـل جلالـه په امر اور بل شوی دی او تر اوسه پورې هغه اور بلیږي.

د ژوروالي په اړه یې دا روایت ذکر کوو:

یوه ورځ رسـول الله صـلی الله علیـه وسـلم لـه صـحابه کرامـو سـره ناسـت وو، دې وخـت کـې یـو ویرونکـی اواز واورېـدل شـو! رسـول الله صـلی الله علیـه وسـلم پوښـتنه وکـړه: آیـا تاسـو پـوهیږئ؟ دا غـږ د څـه وو؟ صـحابه کرامورضی الله علیهم اجمعین وویل: الله جل جلاله او دهغه رسول صلی الله علیه وسلم پوهیږي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: دا غـږ د یـوې ډېـرې ( تیږې،کـاڼي) وو چـې اویـا کالـه مخکـې جهـنم تـه غورځول شوې وه او اوس یې ښخ(لاندې اخري ځای، تل) ته ورسېده.

پل صراط هم د جهنم له پاسه موقعیت لـري او لـه ویښـته څخـه نـری دی. جهـنم دومـره پراخـه دی چـې ډکېـدل یې امکان نه لري. کله چې ټول کافران او نافرمانـه بنـده ګـان پـه جهـنم کـې وغورځـول شـي نـو الله عزوجـل بـه ترې پوښتنه وکړي: چې ډک شوې؟ جهنم به ووایي: یا ربه! نور هم راوغورځوه!

الله رب العزت به پکې د خپل شان مطابق خپل قدم مبارک کیږدي، نو جهنم به ووایي: ياربه! بس! بس!..

یوه ورځ جهنم الله رب العزت ته شـکایت وکـړ: یـا ربـه! زمـا یـوه برخـه بلـه برخـه خـوري! نـو الله عزوجـل ورتـه د دوه سـاګانو ایسـتلو اجـازه ورکړه، وس کله چې پرمونږ سخت تودوخه (ګرمي) راځي نو دا د جهنم دګرمـې برخې ساه ده او کله چې پرمونږ سخت رمی (یخني) راځي دا د جهنم د یخې برخې ساه ده.

Ketabton.com

### د جهنم دروازې:

( لها سبعة ابواب) ژباړه: د جهنم اووه (۷) دروازې دي:

امام ابن جریج رحمه الله د دې په تفسیر کې د دروازو نومونه په لاندې ډول ذکر کړیدي:

1. اوله دروازه: جهنم
2. دوهمه دروازه: لظی
3. دریيمه دروازه: الحطمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



4. **څلورمه دروازه**: سعیر
5. **پنځمه دروازه**: سقر
6. **شپږمه دروازه**: جحیم
7. **اوومه دروازه**: هاویه

## دجهنم طبقې:

**جهنم اووه (۷) طبقې (پوړونه) لري، چې لـه پورتـه خـوا څخـه ښـکته خواتـه ترتیـب دي او هـر څـومره چـې ټيټـه وي هغومره د جهنمي لپاره خورا بده او له عذاب نه ډکه ده.**

**د محمد باقر په روایت سره د جهنم طبقې ( پوړونه) په لاندې ډول دي:**

1. **لـومړی پـوړ: تـر ټولـو لـوړ پـوړ دی؟ چـې "جهـیم" نـومیږي. پـه دې پـوړ کـې د دوزخ اوسـيدونکي پـه سختو ډبرو ولاړ دي او د دوی سرونه او دماغونه د تودوخې څخه جوشیږي.**
2. **دوهم پوړ "سست" دی؛ د اورګرمي پـه دې درجـې کـې لاسـونه، پښـې او سـرونه مـاتوي، او هغـه چـا تـه بلنه ورکوي چې د الله عزوجل له حکم یې سرغړونه وکړه ، حرام مالونه یې راټول او ذخیره کړل.**
3. **دریيمـه طبقـه "غـی" ده چـې پـه هغـه کـې اور دی او هـیڅ شـی نـه پریږیـدي. دا پـه بشـپړه توګـه د بـدن پوستکی بدلوي؛ لس نفر (د عذاب له ملائکو څخه) ورته ټاکل شوي دي.**
4. **څلـورم پـوړ "حطامـه" دی، او لـه دې څخـه د مـاڼۍ پـه شـان لـوی اورونـه غورځـول کیـږي، لکـه (پـه سرعت او کثرت کې) دا د ژیړو اوښـانو پـه څېـر دي چـې پـه هـر ځـای کـې خـوراک کـوي! هـر څـوک چې د دې برخې خوا ته ځي د تور سکاره په څېر ګرځي.**
5. **پنځم منزل "هاويه" دی چې په هغه کـې يـوه ډلـه چيغـې وهـي "مالـک" کلـه چـې مالـک پـه دوی بانـدې چيغـې وهـي، دوی تـه د اور ژیـړې کڅـوړې وړانـدې کـوي، چـې پـه هغـې کـې بدبويـه اوبـه د دوی پوستکي د فلـز پـه څېـر مـاتوي، کلـه چـې دوی د څښـاک لپـاره د اور سـوځولو کڅـوړه پورتـه کـوي، د دوی د مخونو غوښه د هغې له ګرمۍ څخه توییږي.**
6. **شپږم منزل: "سعیر" چې پـه هغـې کـې دېـرش سـوه خېمې(کیـږدۍ) دي، پـه هـره کیـږدۍ کـې درې زره د اورونو ماڼۍ دي، او په هـره مـاڼۍ کـې درې سـوه د اور کورونـه او پـه هـر کـور کـې درې سـوه ډولـه عذابونـه دي. د دوی پـه مـنځ کـې د اور کورونـه، مـاران او مرمـۍ دي، همدارنګـه د اور غلـې دانـې، زنځیرونه او د اور کندې دي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



7. اووم منزل: "درک الاسفال" چې په هغه کې "فلق" موقعت لري او دا په دوزخ کې هغه ځاه ده چې کله پرانستل شي، اور سوځي او دا د اور تر ټولو سخت عذاب دی. په دې سخت ترینه طبقه کې به منافقان وي.

## د جهنم درې او نهرونه

امام مجاهد رحمه الله د دې ایت په (يَلْقَ اثاماً) هکله فرمايي: په جهنم کې يوه وادي ( دره) ده چې اثاماً ورته وايي. همدارنګه د موبقا معنی هم د جهنم د يوې درې يا کندې ده.

د مومنانو له مور بي بي عايشې رضی الله تعالی عنها څخه چا د دې ( فسوف يلقون غيا) پوښتنه وکړه، هغې ورته وويل: دا په جهنم کې يو نهر دی.

## د جهنم اور او د عذاب نور وسایل

په جهنم کې داسې اور دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم یې په اړه وفرمایل:

ستاسې اور د هغې اور اویایمه برخه ده، خلکو پوښتنه وویل: يا رسول الله صلی الله علیه وسلم! دهلاکت لپاره خو دا هم بس دی! رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: هغه اور له دې څخه نهه شپیته ځله زیات تیز دی او هره برخه یې ددې اور په شان ده.

په مسند امام احمد کې دا روایت راغلی او د مسند په يو بل روايت کې دا هم راغلي: چې ستاسو اور د جهنم د اور اویایمه برخه ده او له دې سربېره دوه ځله په سمندر کې ډوب شوی هم دی، که داسې نه وی تاسې به ترې هیڅ فایده نه شوه اخیستی.

په سنن ترمذی او سنن ابن ماجة کې راغلي چې د جهنم اور زرکاله بل کړی شو نو سور شو، بیا زرکاله بل کړی شو سپین شو، بیا زر کاله بل کړی شو تور شو او تر اوسه پورې هماغسې تور دی.

د جهنم د اور تودوخه دومره زياته ده که چېرته يې له سر څخه غر تېر شي نو د ډېر حرارت له امله به ويلې شي.

امام مقاتل رحمه الله په خپل تفسیر کې لیکلي: په جهنم کې به داسې ماران وي چې اوږدوالی به يې د يوې مياشتې د مزل په اندازه وي او غټوالی به يې د غره په شان وي، غاښونه به يې د خرما د ونې د تنې په اندازه وي.

او لړمان به د کچرو په شان وي چې لکۍ به يې درې سوه شپيته بنده وي او هر بند به يې له زهرو څخه ډک وي.

## د جهنم خواړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په قرانکریم کې د جهنمیانو لپاره څلور ډوله خواړه ذکر شوي دي چې په لاندې ډول دي:**

1. **اول : الزقوم:** دا په دوزخ کې لـه اور څخـه جـوړه یـوه ونـه ده، چـې د دوزخ پـه مـنځ کـې راشـنه ده او میوه یې دومره بې کاره ده چې په قران کـریم کـې د شیطان لـه سر سره تشبیه شـوې، او دا ځکـه چـې مسلمانان له وخت څخه شیطان ډېـر پـه بـده پیژنـي، الله عزوجـل د قرانکـریم د دخـان سـورت پـه ۴۳ او ۴۴ ایت کریمه کې فرمـایي: (ان شـجرت الزقـوم، طعـام الاثـیم) د زقـوم ونـه دګناهګـارانو لپـاره خوراکـه دی او دا پـه نـس کـې داسـې ایشـي لکـه سره زر او سـپین زر چـې پـه اور کـې ایشـي. د زقـوم پـه اړه د رسول الله صلی الله علیـه وسـلم دا حـدیث هـم د پـام وړ دی چـې فرمـایي: کـه د زقـوم یـو څـاڅکی پـه نړۍ باندې وشي د نړۍ د ټولو خوړو خونـد بـه خـراب کـړي نـو د هغـو بـه څـه حـال وي چـې د ټـول عمر لپاره یې زقوم خوراک وي.
2. **الغسلین:** دا پـه اصـل کـې د دزوخیـانو لـه ټپونـو او جسـم څخـه روانـې هغـه اوبـه او وینـې دي کـومې چـې د ډېـر حـرارت څخـه بهیـږي، لکـه پـر جسـم د راختلیـو دانـو نوونـه... ددې خـوړو خونـد خـورا خراب او بوی یـې ډېـر بـد دی. الله تعـالی د قرانکـریم پـه حاقـه سـورت کـې فرمـایي: ( فلـیس لـه الیـوم هھنـا حمـیم ، ولا طعـام الا مـن غسـلین، لا یاکلـه الا الخـاطئون) ژبـاړه: دوی لپـاره پـه جهـنم کـې هیڅـوک ملګـری او شـفاعت کـوونکی نـه وي چـې لـه عـذاب څخـه یـې خـلاص کـړي ، او نـه بـه بـل خواړه ومومي بې له غسلین څخه کوم چې دګناهګارانو خوراک دی.
3. **الضریع:** د علماو په نظر دغه هـم یـوه ځـوز لرونکـې وچـه ونـه ده، چـې هـیڅ پـاڼې نـه لـري.دا خـوراک هم انتهایي زیات خبیـث، بـد رنګـه، بـد خونـده، او تـریخ دی.خاصـیـت یـې دادی چـې نـه سـړی پـړې مړیـږي او نـه هـم بانـدې چـاغیږي. الله تعـالی پـه قـرآن کـریم کـې فرمـائي: (لَّـيْسَ لَهُـمْ طَعَـامٌ إِلَّـا مِـن ضَرِيعٍ*لَّا يُسْمِنُ وَلَا يُغْنِي مِن جُوعٍ) سـورة الغاشـیة، آیـة: 6-7.یعنـې د دوزخیـانو لپـاره بـل خـوراک نشـته، بې «ضریع» څخه، کوم چې نه چاغول کوي او نه هم لوږه ختموي.
4. **طعام ذا غصه:** وَطَعَامًا ذَا غُصَّـةٍ وَعَـذَابًا أَلِيمًـا). سـورة المزمـل ایـة ۱۳.ابـن عبـاس رضـي الله تعـالی ددغـه خوراک په اړه ویلي چې داسې یو شی دی که پـه حلـق کـې ودریـږي، نـه لانـدې ځـي او نـه هـم بهـر را وځي. چې دا پورته ۳ قسمونو ټولو ته شامل دی

## د جهنم مشر او څوکیداران

د جهـنم مشـر د یـوه ملایکـه ده چـې مالـک نـومیږي. یـو روایـت کـې راځـي چـې جهنمیـان بـه اواز کـړي؛ ای مالکه! رب العالمین ته ووایه چې موږ ته مرګ راکـړي! مالـک بـه زر کالـه پـس ځـواب ورکـړي چـې کـورې شـئ! ستاسو لپاره هیڅ نجات نشته!. ځواب به ځکه ډېر وخت پس ورکوي چې وځوریږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**الله تعالی په قرانکریم کې فرمايي: ژباړه: ای ایمان والاوو! خپل ځان او خپل اهل له اور څخه وساتئ! له هغه اور څخه چې خس یې خلک او تیږي دي او په هغې باندې د سختو اخلاقو والا ملایکې مقررې دي، د الله رب العزت له حکم څخه سرغړونه نه کوي، او هغه څه کوي چې امر یې ورته کیږي.**

**د معراج د سفر په هکله رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: چې زه کله له جبریل علیه السلام سره لومړي اسمان ته ورسېدم نو د هغه ځای ملایکو ماته په خندا او خوشحالۍ هر کلی وکړ پرته له یوې ملایکې چې زما سلام یې واخیست خو وئې نه خندل؛ ما پوښتنه وکړه؛ چې دا څوک ده؟ جبریل علیه السلام وفرمایل: دا د جهنم مشر څوکیدار دی او مالک نومیږي له پیدایښت څخه تر اوسه یې نه دي خندلې او تر قیامته به نه خاندي.**

## د جهنم خس (لرګي، خاشاک)

**الله تعالی د قرانکریم په سورت البقره کې فرمایي: ( فاتقوالنار التی و قودها الناس). وویریږئ له هغې اور څخه چې خس (خاشاک) یې خلک او تیږي دي. هغه خلک چې د الله رب العزت دین یې پریښی، د الله رب العزت نافرماني کوي او د خپلو خواهشاتو تابعداران دي.**

**هغه څوک چې د الله جل جلاله له لارې مخ وګرځوي که انسانان وي او که پیریان الله عزوجل به یې لوی اور ته وغورځوي چې له لوی اور څخه جهنم مراد دی.**

**او هغه تیږي به وروغورځوي چې عبادت یې شوی دی، تیږه د الله جل جلاله مخلوق دی بې ځایه یې اور ته نه غورځوي، خو دا تیږه د مشرک د شرم او خجالتۍ لپاره ورغورځوي او ورته وبه وایي چې دا ته او دا دې اله، یعنې مطلب دا چې ته دا دې تیږې عبادت کړی اوس ورسره یو ځای پریوځه!**

**او یا به یې الله عزوجل د جهنمیانو د ځورونې لپاره وروغورځوي، ځکه کله چې دا تیږه توده شي نو بیا ژر نه سړیږي او نورو ته تکلیف رسوي ، تیږه دالله مخلوق دی الله جل جلاله به دا نه خرابوي خو جهنمیانو ته به پرې تکلیف رسوي. مثال یې داسې دی: چې انسان له خاورو جوړ دی خو چې پر کلکه خاوره یې وولې نو خوږیږي.**

## جهنمیان څوک دي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسـول الله صـلی الله علیـه وسـلم فرمـایلي دي: مـا پـه تاسـو کـې دوه کارونـه پرېښـودل کـه چېرتـه تاسـې پـرې منګولې ښخې کړې نو هیڅکلـه بـه ګمـراه نـه شـئ او کـه چېرتـه مـو دا پرېښـودل نـو ګمراهـان بـه شـئ. یـو بـل حدیث دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

ژباړه: په دین کې هر نوی کار مـنځ تـه رواړل بـدعت دی ، هـر بـدعت ګمراهـي ده او هـره ګمراهـي بـه پکـې اور وي. هغه څوک چې کفر یـې کـړی ، دالله تعـالی لـه وجـود، د هغـه لـه پیغمبرانـو، د هغـه لـه ملایکـو ، د هغـه لـه کتابونو او د هغه له اوامرو څخه سرغړونه کوي او ترې منکر وي نو هغه به د جهنم په اور کې وي.

الله تعـالی فرمـایي: دوی بـه پـه دې جهـنم کـې د همـیش لپـاره وي او هلتـه بـه ډېـر دردنـاک عـذاب وي. هغـه څوک چې له الله جل جلاله پرته د بل چـا بنـده ګـي کـوي معنـی دا چـې مشـرکین وي او یـا هـیڅ دیـن نـه لـري بې دینه او کافر وي هغه به جهنم ته ځي.

او هغه څوک چې مسلمان دی دالله جل جلاله ځینې اوامـر منـي او لـه ځینـو نـه د لټـۍ لـه املـه سـرغړونه کـوي نو دا هم ګناهګار دی او جهنم تـه بـه ځـي، کـه چېرتـه د الله تعـالی لـه امـر انکـار وکـړي کـافر کیـږي. او د لټـۍ ، سستۍ له امله او یا له کوم شرعي عـذر څخـه پرتـه د الله تعـالی د اوامـرو څخـه سـرغړونه کـوي، نـو جهـنم تـه بـه لاړ شي.

پوښتنه: په جهنم کې به خلك د څومره وخت لپاره وي ؟

ځـواب: هغـه څـوک چـې کـافران دي هغـوی بـه د همـیش لپـاره پـه جهـنم کـې وي او هیڅکلـه بـه تـرې نـه راوځي، اګر که هغې د نېـک عمـل ژمنـې کـوي او داسـلام راوړولـو تـه لېوالـه شـي ، دا ځکـه چـې هلتـه صـرف مکافات او مجازات دي هلته عمل کول نشته.

او هغه څوک چې مسلمان دی او د توحید کلمه یې ویلـه خـو د ګنـاه لـه املـه جهـنم تـه تللـی ، نـو هغـه بـه بېرتـه جنت ته ځي. هره ګناه ځان ته عذاب او دعـذاب مـوده لـري، یـا خـو بـه هغـه مـوده پـوره شـي او الله رب العـزت به یې بیا په نهر حیات کې له مینځلو وروسته جنت ته ولېږي.

الله رب العزت به ټولو مومنـانو، ملایکـو او پیغمبرانـو تـه اجـازت ورکـړي؛ چـې ځـئ! لاړ شـئ! او پـه جهـنم کـې چې د چا شفاعت کوئ ویې کـړئ نـو هـر څـوک بـه راځـي او د خپـل خپـل ملګـرو ، خپلوانـو او نـورو مومنـانو شفاعت به کوي تردې چې د ټولو شفاعت خلاص شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا به الله رب العزت وفرمایي: هر چا خپل شفاعت وکړ او خپل وارثان یې له ځان سره جنت ته بوتلل، اوس د ارحم الراحمین ذات نمبر دی، بیا به الله جل جلاله د خپل شان مطابق خپلې لپې له اور څخه ډکې کړي او داسې خلك به پکې راوباسي چې په سکارو بدل شوي وي.

هر کله چې کوم کس له جهنم څخه د جنت لپاره راووځي نو په نهر حیات( دژوند سیند) کې به ومینځل شي او په هغې سره به داسې پاک شي، لکه بیخي چې جهنم ته نه وي تللی او بیا به یې الله رب العزت جنت ته بوځي مگر رواتل صرف د هغه چا لپاره دي چې د توحید کلیمه یې وئیلې وي.

## د جهنم د خلکو حالت

امام بخاري له ابو هریرة څخه یو راویت رانقل کړی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: په جهنم کې به دکافر غاښ د احد د غره په شان غټ وي، ابو عصمه رحمه الله فرمایي: چې دپوستکي ډبلوالی به یې څلویښت لاسه وي ، او کله چې یې یو پوستکی وسوځي نو بل به ورته واچول شي.

امام مقاتل رحمه الله په خپل تفسیر کې لیکلي: د جهنمي شونډې به د اوښ له شونډو څخه اوږدې وي او یوه شونډه به یې له پاس ژامې څخه پورته او بل به یې لاندې په نس (خېټه) پرته وي.

ربیع بن انس رضي الله عنه فرمایي: چې د جهنمي دپوستکي ډبلوالی به څلویښت لاسه او یا شپږ لاسه وي او د دوی ګیډې به دومره غټې وي که غر پکې واچول شي نو هم به پکې ځای شي، امام احمد رحمه الله په خپل مسند کې ذکر کړیدي:

جهنمي به په جهنم کې دومره غټ شي چې د دوی د اوږو او غوږونو ترمنځ فاصله به اوه سوه کاله وي او د دوی د پوستکي ډبلوالی به اویا لاسه وي او یو غاښ به یې د احد دغره په شان غټ وي.

جهنمیان به په عربي ژبې خبرې کوي له قران څخه ثابت دي.

## د جهنم د عذاب څو نمونې

په صحیح البخاري کې یو روایت راغلی چې د قیامت په ورځ به یو سړی راوستل شي او په اور کې به واچول شي، چې کولمې به یې په اور وریتې شي او داسې به تاویږي لکه خر، ډېر د تکلیف په حالت کې به

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاویږي او راتاویږي، بیا به جهنمیان پرې راټول شي او پوښتنه به ترې وکړي چې ای فلانیه! دا څه حال دې دی؟

آیا تا موږ ته په نېکۍ امر نه کولو او له بدۍ څخه دې نه منع کولو؟ نو دا به ورته ووایي چې ما تاسو نېکۍ ته هڅولی او له بدۍ څخه مې منع کولی خو خپله مې نیکي نه کوله او له بدۍ نه منع کېدم.

په قیامت کې به تر ټولو کم عذاب د هغه چا وي چې د اور څپلۍ ور پښو کړل شي او د هغې له امله به یې ماغزه خوټیږي.

امام مقاتل رحمه الله په خپل تفسیر کې لیکلي: چې د اور خزانچي به جهنمي له شونډو څخه ونیسي او د جهنم له ډېرو به ورته یو مږی ورکړي ، ورته وبه وایي: چې دا وخوره! دا ځکه چې تا د یتمیانو مال خوړلو.

انس بن مالک رضي الله څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: جهنمیانو ته به ژړا راولېږل شي تر دې پورې به ژاړي چې اوښکې به یې وچې شي او له سترګو به یې وینې روانې شي، او بیا به تر دې وژاړي چې په مخونو کې به یې کنده او ډنډونه جوړ شي، که چېرته کښتۍ ورته راولیږل شي نو پکې وبه ګرځي.

ابو درداء رضي الله عنه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي چې فرمايي: جهنمیانو ته به لوږه راولیږل شي چې دنور عذاب سره به برابره وي، هغه عذاب چې په ده حواله وي، بیا به د خوراک غوښتنه وکړي، نو د وینو او زوو نه به خوراک ورکړل شي چې نه پرې مړیږي او نه به پرې چاغیږي ، بیا به خوراک وغواړي،

دا ځل به داسې خوراک ورکړل شي چې له ستونې به یې نه تیریږي وریاد به شي چې په دنیا کې داسې خوراک په اوبو تېرېده نو اوبه به وغواړي، د اوسپنو په ګرمو لوښو کې به اوبه ورکړل شي کله چې یې مخ ته نږدې کړي نو دمخ غوښه او پوستکی به یې توی شي،او کله چې یې خیټې ته داخل شي نو ټول به ټوټه ټوټه کړل شي.

عبدالله بن مسعود رضي الله عنه فرمایي: چې څوک په اور کې دتل لپاره پاته شو نو هغه ته داور تابوت جوړیږي چې بیا همدا تابوت داور په نورو تابوتونو کې اچول کیږي او بیا لاندې د جحیم کندې ته ورغورځول کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**له جهنم څخه د نجات لار**

**الله تعالی په قرانکریم کې فرمايي: ﴿والعصر، ان الانسان لفی خسر، الا الذین امنو وعملوالصالحات و تواصو بالحق، وتواصو بالصبر﴾ ژباړه: قسم دی په زمانه باندې چې انسان په تاوان کې دی مگر هغه څوک چې ایمان يې اوړی، نيک اعمال يې وکړل، په حق باندې يې نصيحت وکړل ، او په صبر يې نصيت وکړ.**

**بل ځای الله تعالی فرمايي: زيری ورکړه! هغه کسانو ته چې ايمان يې راوړی او نيک اعمال کوي د دوی لپاره به داسې باغونه وي چې د هغې لاندې به نهرونه وي او دوی به په دې کې د هميش لپاره وي.**

**هر هغه څوک چې داسلام دين قبول کړي او د الله رب العزت اوامر په ځای کړي د الله جل جلاله او د رسول الله صلی الله عليه وسلم تابعداري وکړي نو دا خلک کامياب دي او د جهنم له اور څخه به نجات حاصل کړي.**

**هر هغه څوک چې د الله جل جلاله له امر سره سم خپل ظاهر برابر کړي ، په زړه کې پرې باور او يقين وکړي او په عمل کې يې راولي نو الله جل جلاله به له جهنم څخه نجات ورکړي.**

**الله رب العزت په ځينو خلکو د جهنم اور حرام کړيدی: لکه انبياء ، شهيدان، صديقين او داسې نور.....**

**همدارنگه هر مسلمان ته يکار ده چې د جهنم له اور څخه نجات وغواړي، ځکه رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: دوه شيان ته په ياد لرئ! صحابه کرامو پوښتنه وکړه کوم دوه شان رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايل: جنت او لوی اور چې له لوی اور څخه جهنم مراد دی.**

**د الهي قانون په ځان منل او عمل کې رواستل د جهنم څخه د ژغورلو يواځينی لار ده**

**الله جل جلاله دې موږ او تاسې ته د جهنم له اور څخه نجات راکړي.**

**الله رب العزت دې موږ له پل صراط څخه سلامت تير کړي.**

**دا دعا تل وائئ! اللهم اجرني من النار، اللهم اجرني من النار، اللهم اجرني من النار**

**الله عزوجل دې زما او ستاسې گناهونه وبښي.**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**